# شمالي وزیرستان: د تحریک طالبان پاکستان ځانمرګی برید ناکامه کړي شو

د شمالي وزیرستان په عیدک سیمه کې د تحریک طالبان پاکستان یوه ځانمرګي بریدګر د امنیتي ځواکونو پر یوه کاروان د برید هڅه ناکامه کړې شوي، چې له امله یې ځانمرګی وژل شوی او درې تنه بې ګناه ځایي خلک ټپیان شوي دي۔

**د تفصیلاتو له مخې، ځانمرګي بریدګر هڅه وکړه چې د امنیتي ځواکونو کاروان په داسې حال کې په نښه کړي چې په ګڼ مېشته سیمه کې له یوه پله څخه تیرېدل۔**

**د امنیتي ځواکونو د بروقت اقدام په پایله کې، ځانمرګی بریدګر کاروان ته نږدې نه شو او له وخته مخکې چاودلو ته اړ شو او خپل ځان یې دوزخ کې واچاوه۔ په برید کې امنیتي کسانو ته کوم زیان نه دی اوښتی او درې ځایي وګړي ټپیان شوي چې د امنیتي ځواکونو له خوا تر درملنې لاندې دي او روغتیایي حالت یې له خطر څخه بهر دی۔**

په ځمکنیو عملیاتو کې د پرله پسې ناکامیو له امله د ټي ټي پي خوارج په سخت ذهني رنځ اخته دي او ځانمرګو بریدونو ته اړ شوي چې په هغو کې له افغان ترهګرو کار اخیستل کېږي۔ انشاالله ډېر ژر به د ټي ټي پي اولادونه، ترهګر او تسهیل کوونکي هم په ورته ډول یو وحشتناکه انجام ته ورسېږي۔